مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۱۹/۰۹/۲۸

# یوه انتباهی او تعلیمی پارچه

د فیسبوک د یارانو څخه په اخیستنی سره د دري او پښتو ادب په اوړو کې اغېزلي شوي یوه انتباهی او تعلیمی پارچه:

باز آ باز آ هر آنـــچه هسـتی بازآ
گر کافر و گبرو، بت پرسـتی باز آ

این درگه ما درگـه ، نومیدی نیست
صد بار اگر توبه شـــکستی ، باز آ

ابوسعید ابوالخیر

د ګناهنو پيټي او درانه بارونو مې، په اوړو دروند والی کاو، چې غیبي غږ راباندی وشو، چې راشه دومره راشه، چې زما دروازې ته نژدې شې ،هومره زما ور وټکوه چې ور دې پرمخ خلاص کړم.

ډیر مزل مې وکړ! یو شیبه روحی تلقین راته حاصل شو ،چې همدا ځای به وي ، خو هیڅ دروازه مې و نه لیده ،چې هر څومره مې د لټون سترګي پرانیستي هغه دروازه ښکاره نشوه ، نو د سترې او ستومانه زړه نه مې غږ وکړ ، چې یاربه ! کومه دروازه وټکوم ،دلته خو هیڅ دروازه نه وینم ،غږ وشو او وې ویيل :ما همداسي وویيل : چې ته راشي ،که نه ما هیڅ وخت د خپل رحمت دروازې ،ستا پرمخ نه دي تړلي ،هماغه وو ، چې د ډیر حیرته د ګناهونو درانه بارونه مې د اوږو څخه پر مځکه و غورځیدی ،او مخامخ تندی مې پرمځکه راغی ،او د سجدی په حالت پریوتم .چې یاربه ستا د رحمت د دریاب، څومره خلاصه غیږه ده ، چې هر نا امید چې هیڅ لاره نه لری هم همدې خوا راځي .

چه آغوش است، یارب موجه، دریای رحمت را
که هر کس ره ندارد هیچ سو، سوی تــو می آید
بیدل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ